مناسب نه دي چې په اور دې خلک سوځول وکړي، ځکه په اور عذاب ورکول یوازې د اور د مالک کار دی

له ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې: مور د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې و، هغه د حاجت رفع کولو لپاره ولاړ، نو مور یوه مرغۍ ولیدله چې دوه بچیان یې درلودل، مور یې بچیان را ونیول، نو مرغۍ راغله او ځان یې د خپلو بچیانو پر سر غورځاوه. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم راغی او ویې ویل: "چا دغه مرغۍ د بچیانو په اخستلو سره زورولې ده ؟ خپل بچیان یې بېرته ورکړئ". همدارنګه، هغه د مېږیو ځاله ولیده چې مور سوځولې وه، نو ویې فرمایل: "دا چا سوځولې ده؟" مور وویل: مونږ ، هغه وفرمایل: «مناسب نه دي چې په اور دې خلک سوځول وکړي، ځکه په اور عذاب ورکول یوازې د اور د مالک کار دی".

[صحیح دی] [ابو داود روایت کړی دی]

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وایي چې هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په سفر کې وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د حاجت رفع کولو لپاره لاړ، صحابه کرامو یې یوه مرغۍ ولېده چې دوه بچیان ورسره ول، نو دواړه یې تري واخېستل، پدې وخت کې مرغۍ د فریاد په توګه خپل وزرونه غوړول راغوړل، ځکه چې بچیان یې تري ورک شوي وو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم چې راغی ویې فرمایل: چا یې د بچیانو په اخېستلو خفه کړي او ویرولې ده؟ بیا یې حکم وکړ چې بچیان یې بېرته ورکړل شي. بیا یې د مېږیانو یوه ځاله ولیده چې په اور سوځول شوې وه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: دا چا سوځولې ده؟ ځینو صحابه وو یې وویل: مور. هغوی ته یې وفرمایل: هېڅاته روا ندي چې ژوندي مخلوق ته په اور سره سزا ورکړي، پرته له الله څخه چې پیدا کوونکی یې دی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/8892